ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ

گڼه: ۰۵ | مسلسل نمبر: ۱۴۳

چهارشنبه، ذوالحجه ۳مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

# اباډي
پنځلس ورځنۍ


## د اقتصادي کمېسیون له خوا د معیار او کیفیت ۶۹ مسودې تایید شوې



۲ صفحه

## د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې د معیاري لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو تړون لاسلیک شو



۲مه صفحه

## مالګه او د هغې د کانې زېرمو اقتصادي ارزښت



۵مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور په ۲۳ مه د معیار او کیفیت ادارې او یوه نړیوال شرکت ترمنځ د څه د پاسه ۴۶ میلیون ډالرو په ارزښت د لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو او سمبالتیا تړون لاسلیک شو. یاد شرکت به د پنځو کلونو په موده کې د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې معیاري لابراتواري کمپلکسونه جوړ، پرمختللي تجهیزات به چمتو او نصب، موجوده تجهیزات به ترمیم او همدارنګه د معیار او کیفیت ادارې د کارکوونکو مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه به بهرني متخصصین جذب کړي. په بندرونو کې د معیاري لابراتواري کمپلکسونو جوړول ډېر مهم دي، ځکه چې دا د سوداګرۍ، صادراتو، وارداتو او عامې روغتیا د خوندي ساتلو لپاره اساسي رول لري. اهمیت یې په دې کې نغښتی دی چې له دې لارې د وارداتي او صادراتي توکو کیفیت، خوندیتوب او معیارونه معاینه کېږي، ترڅو بې‌کیفیته یا زیان رسوونکي مواد بازار ته داخل نه شي. دغه راز معیاري لابراتوارونه دې ته زمینه برابروي چې توکي له نړیوالو اصولو سره سم تصدیق شي چې دا بیا د صادراتو د زیاتوالي سبب ګرځي. دا په خپله د سوداګرۍ په پراختیا کې مهم رول لري. په بندرونو کې د همدې لابراتوارونو په مرسته په وارداتي خوراکي توکو، درملو، کیمیاوي موادو او حیواني محصولاتو کې خطرناک میکروبونه، زهري مواد او دې ته ورته نور معلومېږي چې دا پخپله د روغتیا له خوندي کېدو سره مرسته کوي. د دغو لابراتوارونو پرمټ د قاچاق او جعل مخنیوی هم کېږي. په پرمختللو وسایلو سمبال لابراتوارونه په بندرونو کې د جعلي درملو، غیرقانوني کیمیاوي موادو او نورو ناقانونه توکو د وارداتو مخه نیسي. د معیاري وارداتو په صورت کې موږ کولای شو چې خپل چاپېریال هم خوندي کړو. له بل لوري په بندرونو کې د معیاري لابراتوارونو په جوړېدو سره اقتصادي وده رامنځته، د عوایدو کچه لوړېږي او ترڅنګ یې د پانګونې له پاره لار هوارېږي او ورسره د کارموندنې فرصتونه زیاتیږي. تر ټولو مهمه دا چې په دې چارې سره په نړیوال بازار کې د حکومت باور او اعتماد زیاتیږي. له دې وړاندې په سوداګریزو بندرونو کې دې برخې ته کومه ځانګړې پاملرنه نه وه شوې. همدا لامل و چې د هېواد په سوداګرۍ، په تېره بیا د صادراتو په برخه کې کوم پرمختګ نه لیدل کېده. اوس چې اسلامي امارت واک ته رسیدلی، هڅه یې داده چې د سوداګرۍ له پاره شته ټول معیارونه پوره او سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي. په همدې موخه یې د سوداګریزو بندرونو د معیاري کولو له پاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. دا دی اوس یې څه د پاسه ۴۶ میلیون ډالرو په ارزښت د لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو او سمبالتیا تړون لاسلیک کړ. د دې کمپلیکسونو په جوړېدو سره به له دې وروسته د هېواد صادرات او واردات په معیاري ډول ترسره کیږي. دا به د دې لامل شي چې په نړیوال بازار کې د حکومت باور زیات او د هېواد صادرات مو د نړۍ هر کونج ته ورسېږي. د صادراتو په زیاتیدو سره به سوداګري پراختیا ومومي، له دې سره به مو کورني تولیدات زیات او په ټوله کې به اقتصادي وده ګړندۍ شي.

# د اقتصادي کمېسیون له خوا د معیار او کیفیت ۶۹ مسودې تایید شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. د اقتصادي کمېسیون غونډې ته له اجندا سره سم د معیار او کیفیت اداري له خوا د معیارونو ۶۹ مسودې د تاییدۍ له پاره وړاندې شوې. په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته یادې مسودې تایید او اړوندو ادارو ته یې د نبه تطبیق سپارښتنه وشوه. د ۶۹ مسودو له جملې ۲۹ ازمایښتي روښونه او پاتې نور یې معیارونه دي چې د مدیریت، نفتي توکو، طبي وسایلو، مخابراتو، کیمیاوي توکو، زراعت او خوراکي موادو، کانونو، چاپېریال ساتنې او ساختماني موادو په برخه کې جوړ شوي دي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د جوزجان شبرغو ولسوالیو ته د برېښنا رسوني پروژې په اړه د تخنیکي، مالي او اقتصادي څېړنو او کړنو په تړاو راپور وړاندې شو. د غونډې ګډونوالو له بحث وروسته پرېکړه وکړه چې په دې اړه دې یو پلاوی یادو ولسوالیو ته سفر وکړي او د خپلو موندنو راپور دې د اقتصادي کمېسیون بلې غونډې ته وړاندې کړي. په غونډه کې د کانونو او پټرولیم وزارت له خوا ۷۷ ساختماني شرکت ته د سمنګان د دره صوف بالا ولسوالۍ د زورا سیمې د ډبرو سکرو د ظواهرو د قرارداد ورکولو وړاندیز و چې په اړه یې اقتصادي کمېسیون پرېکړه کړې وه چې د دې قرارداد ټول اړخونه دې د اصولو په رڼا کې وڅېړل شي او خپل نهایي راپور دې د ریاست الوزراء مقام ته وړاندې کړي. په نننۍ غونډه کې پرېکړه وشوه چې دا موضوع دې تر هر اړخیزې څېړنې وروسته د ریاست الوزراء مقام ته وړاندې شي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د ادارو د تېلو د قراردادونو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې او همدا راز د کندوز ولایت د علي آباد ولسوالۍ د پنځوس بستریز روغتون په تړاو د عامې روغتیا وزارت راپورونه وړاندې شول. په غونډه کې تر بحث وروسته پرېکړه وشوه چې یوه کمېټه دې د تیلو د قراردادونو موضوع په هر اړخیز ډول وڅېړي او خپل راپور دې د کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون نننۍ غونډه کې د کندوز ولایت علي اباد ولسوالۍ د روغتون په اړه پرېکړه وشوه چې د عامې روغتیا وزارت دې په نوموړې ولسوالۍ کې یو ۳۰ بستریز روغتون جوړ کړي.



# د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې د معیاري لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو تړون لاسلیک شو

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور په ۲۳ مه د معیار او کیفیت اداري او یوه نړیوال شرکت ترمنځ څه د پاسه ۴۶ میلیون ډالرو په ارزښت د لابراتواري کمپلکسونو د جوړولو او سمبالتیا تړون لاسلیک شو. د دغه تړون له مخې چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د معیار او کیفیت اداري د رییس محترم مولوي فیض الله تمیم او د یوه هندي نړیوال شرکت ( تي سي آر سي) د استازي ترمنځ لاسلیک شو. نوموړی شرکت به د پنځو کلونو له پاره د هېواد په مرکز او نهو بندرونو کې معیاري لابراتواري کمپلکسونه جوړ ، پرمختللي تجهیزات به چمتو او نصب، موجوده تجهیزات به ترمیم او همدارنګه د معیار او کیفیت اداري د کارمندانو د مسلکي ظرفیت لوړولو په موخه به بهرني متخصصین معرفي کړي. د دې تړون له مخې به د معیار او کیفیت اداري مسلکي کارکوونکو ته کورني او بهرني روزنیز پروګرامونه هم جوړ او د معیارونو نړیوال سازمان (ISO) څخه به د نړیوالو باوري کیفیت تایید لیکونو د ترلاسه کولو بهیر هم عملي شي.



## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال کندهار کې د ۵۲ کیلومتره سړک د رغونې پروژې پرانیسته وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کندهار ولایت کې د شمالي دهلېز اړوند د ۵۲ کیلومتره سړک د رغونې د چارو پرانیسته وکړه.
محترم حاجي ملا صاحب د کندهار په خاکریز ولسوالۍ کې د پرانیستې پر مهال ویلي، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي سکتور د پیاوړتیا لپاره مهمې بنسټیزې پروژې پیل کړې، چې موخه یې د خلکو لپاره د کاري فرصتونو برابرول او د ټرانسپورټي اسانتیاوو ښه کول دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې د ورته پروژو عملي کېدل به د سیمو ترمنځ اړیکې پیاوړې او د سوداګرۍ بهیر اسانه کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: اوسنی نظام د خلکو د قربانیو پایله ده

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د سفر پر مهال له یو شمېر پوځي او ملکي مسوولینو سره لیدنه کې ویلي، چې اوسنی نظام د خلکو د قربانیو پایله ده او مسوولین باید په هر حالت کې د خلکو خدمت او د ستونزو پر وخت حل ته پاملرنه وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همداراز د ارزګان مرکز او دهراوود ولسوالۍ ترمنځ د غځېدلي سړک د جوړېدو چارې هم ارزولې دي.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د شاوخوا ۳۵ میلیارده افغانیو په ارزښت پانګونه جذب کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه په هېواد کې د پانګونې د جلب او جذب، پانګوالو ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو، له هغوی سره د پانګونې فرصتونو شریکولو، د



پانګوالو او اړوندو ادارو ترمنځ د مؤثرې همغږۍ رامنځته کولو او د هېواد د اقتصادي ودې د ښه کېدو لپاره فعالیت کوي. دې کمېټې د خپل فعالیت له پیله بیا تر دې دمه د برېښنا، زېربنا، ساختمان، کرنې، ترانسپورټ او معلوماتي ټکنالوژۍ په سکتورونو کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو ۴۸ طرحې په هر اړخیز ډول څېړلې دي چې د اقتصادي کمېسیون تر تایید وروسته د مشرتابه عالي مقام له لوري منظورې شوې دي. دغه طرحې په بېلا بېلو ولایتونو کې تطبیق کېږي، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا ۳۵ میلیارده افغانیو ته رسېږي. د دې طرحو په تطبیق سره په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شوي او همداراز د کورنیو ساختماني توکو بازار ورسره غوړېدلی دی. کورنې او بهرنې پانګوال کولای شي په افغانستان کې د پانګونې له موجودو فرصتونو څخه استفاده وکړي او خپلې طرحې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## کابل ښار کې د خصوصي طبي پوهنتون او تدریسي روغتون لپاره د لس پوړیزې ودانۍ د جوړولو پر طرحه بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۵مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د کابل ښار په نهمه ناحیه کې د بایزید روښان خصوصي طبي پوهنتون او تدریسي روغتون لپاره د لس پوړیزې ودانۍ د جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډې کې د دې طرحې پر اهمیت او اړتیا ټینګار وشو او اړوندو ادارو ته دنده وسپارل شوه، څو یاده طرحه په هر اړخیز ډول و ارزوي او خپل راپور په ټاکلې نېټه د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي. همدارنګه په دې غونډه کې د ننګرهار ولایت د مرکز جلال اباد ښار په لومړۍ ناحیه کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ او د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان ښار کې د کفیټریا او دوکانونو جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. له بحث وروسته یادې طرحې اړوندو ادارو ته راجع او دنده ورته وسپارل شوه، چې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې د نظرونو په پام کې نیولو سره یې تخنیکي، مالي او اقتصادي تحلیلونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلو نېټو دې کمېټې ته وړاندې کړي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ
اباډي
پنځلس ورځنۍ

# اقتصادي خبرونه

## پیش‌رفت پروژه‌ی کاسا-۱۰۰۰؛ افغانستان در مسیر ترانزیت انرژی منطقه

شرکت برشنا می‌گوید که کارهای مربوط به پروژه‌ی انتقال برق کاسا-۱۰۰۰، در خاک افغانستان تا اکنون در سه بخش ۸۰ درصد پیش رفته است. به‌گفته‌ی این شرکت، افغانستان به اجرای پروژه کاسا-۱۰۰۰ وفادار بوده و تلاش‌ها برای تکمیل بخش باقی مانده‌ی آن ادامه دارد. سخن‌گوی این شرکت، در این باره افزود: «مدت زمانی که برای تکمیل این پروژه تعیین شده بود، تا پایان سال ۲۰۲۷ بود؛ اما با توجه به روند کاری که اکنون جریان دارد، ان‌شاءالله این پروژه در ربع اول سال ۲۰۲۷ تکمیل خواهد شد.» پیش‌تر، وزارت انرژی تاجیکستان اعلام کرده بود که کارهای مربوط به پروژه‌ی کاسا-۱۰۰۰ در قرغیزستان، تاجیکستان و پاکستان تکمیل شده؛ مگر روند اجرای آن در افغانستان هنوز ادامه دارد. شماری از آگاهان اقتصادی باور دارند که با تکمیل این پروژه، افغانستان افزون بر نقش ترانزیتی، از مزیت‌های اقتصادی و درامدهای ناشی از انتقال برق نیز بهره‌مند خواهد شد. عبدالنصیر رشتیا، آگاه اقتصادی، در این باره گفت: «در صورتی که این پروژه عملی شود، بدون شک ما سالانه از ۴۰ تا ۵۰ میلیون دالر حق ترانزیت دریافت خواهیم کرد که می‌تواند عواید را افزایش دهد و حکومت را در تطبیق برنامه‌ها و پلان‌های استراتیژیک کمک کند. در کنار آن، افغانستان به برق بیش‌تر و ارزان‌تر نیز دسترسی خواهد یافت.» سیر قریشی، یکی دیگر از آگاهان اقتصادی، در این باره افزود: «این پروژه در حقیقت تنها یک خط انتقال برق نیست، بلکه یک فرصت مهم اقتصادی و سیاسی برای افغانستان به‌شمار می‌رود. افغانستان از انتقال برق آسیای میانه به جنوب آسیا عواید ترانزیتی به‌دست می‌آورد، زمینه های کاری ایجاد می‌شود و این پروژه می‌تواند در تقویت زیربناهای کشور نقش مهمی داشته باشد.» پروژه‌ی انتقال برق منطقه‌ای کاسا-۱۰۰۰ یکی از مهم‌ترین پروژه‌های زیربنایی و منطقه‌ای در بخش انرژی به‌شمار می‌رود که هدف آن انتقال برق از آسیای مرکزی به جنوب آسیاست. تکمیل این پروژه می تواند نقش افغانستان را در بخش ترانزیت انرژی تقویت کرده و زمینه‌ی همکاری‌های بیش‌تر اقتصادی میان کشورهای منطقه را فراهم کند.

## ادامه مطالعات پروژه راه‌آهن افغان-ترانس با همکاری روسیه و ازبیکستان

شرکت راه‌آهن روسیه اعلام کرده که متخصصان روسیه و ازبیکستان در حال انجام مطالعات فنی و اقتصادی پروژه راه‌آهن افغان-ترانس هستند. هدف این پروژه ایجاد دهلیز ریلی میان آسیای‌مرکزی و جنوبی از طریق افغانستان است. سرگی پاولوف، معاون نخست این شرکت، در نشست شورای حمل‌ونقل ریلی کشورهای مستقل مشترک‌المنافع در عشق‌آباد گفته که کار روی این پروژه ادامه دارد و دو طرف در حال تکمیل مطالعات فنی آن اند. میرشاکر یعقوبی، آگاه اقتصادی، در این باره گفت: «همکاری روسیه در پروژه‌ی افغان-ترانس می‌تواند بسیار مفید و حیاتی باشد، در وضعیت کنونی که افغانستان به گسترش پیوندهای تجاری نیاز دارد، این پروژه می‌تواند از نگاه تجارت و اقتصاد نقش مهمی در تحکیم این پیوندها ایفا کند.» بر پایه‌ی این طرح، مسیر راه‌آهن از شهر ترمذ ازبیکستان آغاز شده و پس از عبور از مزارشریف و کابل به شهر پشاور وصل خواهد شد، مسیری که می‌تواند نقش مهمی در گسترش تجارت و حمل‌ونقل منطقه‌ای داشته باشد. در همین حال وزارت فوایدعامه‌ی امارت اسلامی‌افغانستان نیز از آمادگی‌ها برای آغاز کارهای مطالعات فنی این پروژه در کشور سخن گفته است. سخنگوی این وزارت در این باره پافشاری کرد: «تفاهم‌نامه مطالعات فنی این پروژه پیش‌تر میان افغانستان، ازبیکستان و پاکستان امضا شده است، بر پایه‌ی این تفاهم‌نامه، یکی از شرکت‌ها برای انجام مطالعات این پروژه انتخاب شده و به‌زودی کار عملی آن را آغاز خواهد کرد.» ازبیکستان، افغانستان و پاکستان در ماه فبروری سال ۲۰۲۱ در تاشکند نقشه‌ی راه اجرای این پروژه را امضا کرده بودند؛ مگر تغییر وضعیت سیاسی در افغانستان روند عملی‌شدن آن را با کندی روبه‌رو کرد. پس از آن توافق‌نامه‌ی مطالعات امکان‌سنجی این پروژه در ۲۰۲۵ میان وزارت فوایدعامه‌ی امارت‌اسلامی‌افغانستان، وزارت ترانسپورت ازبیکستان و وزارت راه‌آهن پاکستان در کابل امضا شد.

## پیش‌رفت پروژه‌ی تاپی؛ تلاش‌ها برای تولید برق و گاز مایع در افغانستان

کار تمدید پایپ‌لاین پروژه‌ی تاپی در خاک افغانستان ۵۵ کیلومتر پیش‌رفت کرده است. وزارت معادن و پترولیم می‌گوید که کارهای بسترسازی این پروژه نیز به ۱۲۵ کیلومتر رسیده و در کنار انتقال گاز، تلاش‌ها برای استفاده از گاز تاپی در بخش تولید برق، گاز مایع و گاز مصنوعی ادامه دارد. به‌گفته‌ی این وزارت، عزیزی گروپ علاقه‌مند است که با سرمایه‌گذاری، از گاز این پروژه در بخش تولید برق استفاده کند. سخنگوی این وزارت در این باره افزود: «۱۲۵ کیلومتر مسیر برای تمدید پایپ‌لاین



آماده شده است، هم‌چنان ۱۰۷ کیلومتر سرک نیز برای انتقال پایپ‌لاین آماده شده و پایپ‌لاین‌های جدید هم به ساحه رسیده اند، ان‌شاءالله هیچ مانعی در برابر اجرای این پروژه وجود ندارد.» مسؤلان وزارت معادن و پترولیم می‌گویند که روند عملی پروژه‌ی تاپی عادی ادامه دارد و کار تمدید آن در ولایت هرات تا پایان سال تکمیل خواهد شد. آگاهان اقتصادی نیز باور دارند که استفاده از گاز تاپی می‌تواند به کاهش کمبود انرژی و رشد صنعت در کشور کمک کند. حسیب‌الله صافی، آگاه اقتصادی، در باره‌ی اهمیت تولید برق از گاز تاپی گفت: «پروژه‌ی تاپی در حقیقت یک پروژه‌ی انتقال گاز است و سرمایه‌گذاری و تولید برق از این پروژه می‌تواند به سود کشور تمام شود، زیرا صنعت و اداره های کشور به برق بسیار نیاز دارند.» پروژه‌ی تاپی که نام آن از حرف‌های نخست کشورهای ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند گرفته شده، یکی از بزرگ‌ترین پروژه‌های انتقال گاز در منطقه به‌شمار می‌رود که هدف آن انتقال سالانه بیش از ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز ترکمنستان به کشورهای جنوب آسیاست.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصـــادي او ټولنیـــزو مسایلـــو په بـــرخـــه کـــې
د ریاســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونیت پنځلـــس ورځنۍ



ابادي
پنځلـس ورځـنۍ



# مـــالګــــه
## او د هغې کاني زېرمو اقتصادي ارزښت

عطاءالرحمن سعید

### سریزه

مالګه یو له هغو ارزښـــتمنو طبیعي موادو څخه ده چې له زرګونو کلونو راهیســې د بشر د اولیه اړتیـــاوو برخه بلل کېږي. پــه پخوانیو تمدنونو کې کله چې ژوند ســـاده او بشر اوسنیو سهولتونو ته لاسرسی نه درلود خلکو به مالګه د خوړو د خوند برابرولو سربېره د خوړو ســـاتنې لپاره هم کاروله، د همدې اړتیا پر بنســـټ مالګې د تاریخ په اوږدو کې ښـــه اقتصادي ارزښـــت درلود، مالګه د تجارت یوه مهمه برخه وه او حتی د انتقالاتو لپاره یې ځانګړې لارې جوړې شوې وې، د بېلګې په توګه د پخواني روم له Via Salaria (د مالګې لارې) څخه یادونه کوو، چې د همدې معدني موادو د انتقالاتو لپاره جوړه شوې وه. ویل کېږي په پخواني روم کې د عســـکرو د تنخوا یوه برخه د مالګې پـــه ډول ورکول کېده، چې د انګلیسي ژبې Salary کلمه هم له همدې ځایه سرچینه اخلي.

همدارنګه په اوســـني عصر کې هم مالګه ښه اقتصادي او صنعتي ارزښت لري. دا چې ننۍ نړۍ د صنعت او تخنیک پـــه لحاظ ډېر پرمختګ کړی نو د مالګې اســـتعمال هم د خوړو د ذایقې تر برابرولو محدود نه دی بلکې سربېره پر دې په صنعت کې ډېر متنوع او پراخ اســـتعمال لري. مالګه د نړیوال تجارت مهمه برخه ده، په ۲۰۲۵ م کال کې د مالګې د نړیـــوال تجارت اندازه ۴۱,۸۵ میلیـــارده ډالر وه چې اټکل کېږي دغه رقم به په ۲۰۳۰ م کال تر ۶۱ میلیارد ډالر پورته شي، دا ښـــیي چې مالګه باثباتـــه او د پراختیا په حال کې نړیوال بازار لري.

د ملګرو ملتونو د نړیوالې سوداګرۍ ډېټابېس لخوا په ۲۰۲۴ کال کې د مالګې صادرروونکو هېوادونو د مالګې د صادراتو ارزښت ټولټال ۳,۷۸ میلیارد ډالر ښودل شوی دی.

### لنډه علمي پېژندنه

مالګه ($NaCl$) یو طبیعي منرال دی چې د سوډیم او کلورین د کیمیـــاوي ترکیب له مخې جوړ شـــوی دی. دا منرال په طبیعت کې د هلایټ (Halite) ډبرې په بڼه موندل کېږي. هلایټ یو تبخیري (Evaporite) منرال دی چې د تروو اوبو د تبخیر (Evaporation) او مالګینو محلولونو د رسوب کېدو پروسې په پایله کې رامنځته کېږي.

مالګه یا هلایـــټ منرال په ځمکه کې پـــه دوو بڼو موندل کېږي؛ یو معدني مالګه (Rock Salt) او بل په محلول ډول په مالګینو اوبو کې شتون لري.

### په افغانستان کې د مالګې د کاني زېرمو اقتصادي ارزښت

افغانســـتان یو له هغه هېوادونو دی چې د طبیعي زېرمو له پلوه په نړۍ کې د بډایه هېوادونو په کتار کې راځي، افغانستان د خپلې پراخې جیولوجیکي تنوع له امله بېلابېل کاني ذخایر لري. دغه کاني ذخایر په هېواد کې نامساعدو شرایطو له امله تر اوســـه ندي اســـتخراج شوي او په خپل طبیعي حال پاتې دي.

افغانستان د نورو کاني زېرمو سربېره په خپله بډایه غېږ کې د مالګې ستر ذخایر لري، د څېړنو له مخې د هېواد په لسو ولایتونـــو (تخار، فاریاب، بلخ، ســـمنګان، هـــرات، غور، پـــروان، کندهار، پکتیا او غـــزني ولایتونو کې د مالګې ۱۸ کانونـــه تثبیت شـــوي، چې له دې جملې یو شـــمېر یې په قرارداد هم ورکړل شوي او استخراج یې عملا روان دی.

په هېواد کې د مالګې زېرمو ظرفیت خورا لوړ دی، چې کولی شي د اوږدې مـــودې لپاره د مالګې له پلوه د هېواد اړتیاوې پوره کړي. سربېره پر دې، کولای شـــو نړیوالو بازارونو ته د مالګې صادرات هم ولـــرو. د یوې سروې له مخې په تخار ولایت کې د معدن مالګې ۳۰۰ میلیون ټنه زېرمه شتون



لري، چې يواز همدا کولی شي د راتلونکو زرو کلونو لپاره د هېواد د مالګې اړتيا تأمين کړي.

افغانســـتان په کلني ډول ۳۰۰ زره ټنه مالګې ته اړتيا لري، چې له دې جملې ۱٦۰ زره ټنه يې خوراکي او پاتې ۱۴۰ زره ټنه يې صنعتي او حيواني مالګه ده. پخوا د هېواد د دې اړتيا لويه برخه د وارداتي مالګې له لارې تأمينېده، خو د اسلامي امارت د بيا ځلي واکمنـــۍ له پيله را په دې خوا د مالګې د استخراج او پروسس کچه زياته شوې ده، چې له امله يې د هېواد د مالګې اړتيا پوره شوې او په دې برخه کې هېواد پر ځان بسيا شوی دی. اسلامي امارت په هېواد کې د مالګې داخـــلي توليد د پراختيا او ملاتړ په موخه پر وارداتي مالګې کلک بنديز لګولی دی چې په دې سره د مالګې صنعت وده کړې او زرګونه هېوادوال په مستقيم او غير مستقيم ډول په همدې برخه کې په کار بوخت شـــوي دي. اوســـمهال په هېواد کې د مالګې پروسس ۵۳ فابريکې فعالې دي، چې له دې جملې څو فابريکې په نړيوالـــو معيارونو برابرې دي او پاتې برخه يې غيرمعياري فعاليت لري، خو د معياري کېدو لپاره يې هڅې روانې دي.

په هېواد کـــې د مالګې د توليد کيفيت او کميت د لوړولو او د داخـــلي اړتياوو د تأمين سربېره، نړيوالو بازارونو ته د مالګـــې د وړاندې کولو لپاره په پراخـــه کچه پانګونې ته اړتيـــا ده. د پانګونې لپاره اوس تـــر بل هر وخت شرايط مســـاعد شـــوي دي او ګڼ فرصتونه شـــته چې پانګوال کولای شي ګټه ترې واخلي.

د مالګې په سکټور کې د پانګونې جذب کولای شي د عوايدو په زياتوالي کې مرسته وکړي؛ ورسره به کاري فرصتونه ايجاد شي، صنعت او سوداګري به پراخه شي. همدارنګه پر وارداتو به تکيـــه راکمه او صادرات به زيـــات شي، چې په ټوله کې به د هېواد د اقتصادي ودې لامل شي.

## پايله

څرګنده شـــوه چې مالګه نه يوازې په تاريخي لحاظ د بشر له مهمو لومړنيو اړتياوو ګڼل کېږي، بلکې په اوسني عصر کې هم خورا مهم صنعتي او تجارتي ارزښت لري. د تاريخ په اوږدو کې مالګې پـــه تجارت، صنعـــت، اقتصاد او حتـــی د تمدنونو د پرمختګ په بهير کې مهم رول لرلی دی.

په هېواد کې د مالګې شته پراخې زېرمې د اقتصادي ودې لپاره يوه مهمه منبع ګڼل کېږي، چې د زېرمو سم مديريت او معياري اســـتخراج يې کولی شي د داخلي اړتياوو د پوره کولو سربېره د صادراتو ښه سرچينه هم وګرځي.

د مالګـــې د اســـتخراج او پروســـس په برخه کې وروســـتيو پرمختګونو، له دې اړخه هېواد ځان بسياينې ته رسولی، خو د دغه سکټور د لا ودې او معيارې کېدو لپاره د لا نورې پانګونې جذب او د ښه مديريت په برخه کې يې ښې پاملرنې ته اړتيا ده ترڅو زېرمې په معياري ډول استخراج شي، د پروسس کيفيت ښه او د توليد کچه لوړه شي او په راتلونکي کې هېواد وکولای شي د داخلي اړتيا سربيره مالګه د افغانستان د مهم صادراتي توکي په حيث تر نړيوالو بازارونو ورسوي.

1.The Business Research Company (Salt Market Research and Size Analysis 2026)

2.https://www.thebusinessresearchcompany.com/report/salt-global-market-report?utm_source=copilot.com

3.https://youtu.be/5nAr838QSxs?si=cl7OotLKqNcSCW-i

4.https://youtu.be/GWcgal8T3cY?si=hehB6Nt8N-L5HgDF

# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋٦٣,٧٠ | ؋٦٣,٧٥ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۲۲ | ؋۲۲۲ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۳٦ | ؋۰,۳۷ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۳,۸۰ | ؋۷٤,۰۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۹ | ؋۰,۹۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۷٤٦ | ؋۷٤٤ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸٤,۹۰ | ؋۸٥,۲۰ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱٦,۹۸ | ؋۱٦,۹۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۳٥ | ؋۱۷,۳٦ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۳۷ | ؋۹,۳۷ |

